جریده

# میزان

د سترې محکمې کاري څرګندويه خپرونه

قوه قضائیه

دهستۍ نظام پر عدل ولاړ دی

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه : الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده ترڅو تاسو په تله کې تېری او ټګي ونه کړئ.
دتفسير ځينې عالمان له دې نه داستنباط کوي چې د دنيا د هستۍ نظام پرعدل ولاړدی، کله چې عدل له منځه لاړ شي نو دهستۍ نظام هم له منځه ځي.

د تاسيس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

دوشنبه ۳۰ حوت ۱٤۰۰هـ ش | ۱۷ شعبان المعظم ۱۴۴۳ هـ ق | ۲۱ مارچ ۲۰۲۲ م | شماره مسلسل۰۵

# د اسلامي امارت ټولو مجاهدينو ته د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله هدايات

الله تعالی په خپل فضل او کرم سره د اسلامي امارت ټولو مجاهدينو ته يوه ستره فتحه ورنصيب کړه چې اوس د يوې سترې ازموينې سره مخ دي ، ددې لپاره چې مجاهدين په دې ستره ازموينه کې بريالي شي ، بايد لاندې ټکوته جدي پاملرنه وکړي:

١- ټول مجاهدين خپل نيتونه خالص لله فی الله وګرځوئ .

٢- مشران اوکشران ټول د تقوی په زينت سره خپل ځانونه ښايسته کړئ .

٣- د الله تعالی ډيرحمد وواياست چې دمقدس جهاد په برکت اوپه خپل نصرت سره يې عظيمه فتحه درپه برخه کړه .

٤- په ټولو چارو کې دعدل اوانصاف څخه کاراخلئ .

٥- دخپل ځوريدلي ولس سره احسان کوئ .

٦- دکبر، غرور، عجب ،ظلم اوخيانت څخه ځانونه وساتئ .

٧- د قوم پرستۍ ، لسان پرستۍ او انډيوال پرستۍ څخه په کلکه پرهيز وکړئ .

٨- امتيازبايد په تقوى او امانت دارۍ سره وي .

٩- په خپلو مينځو کې د اعتماد او ورورګلوۍ فضاء قايمه کړئ .

١٠- د داسې حرکتونو څخه ځانونه وساتئ چې په خپل مينځ کې بې اعتمادي رامينځته کوي .

١١- په خپل مينځ کې دامربالمعروف اونهي عن المنکر فريضه مه پريږدئ ، لمونځونه په جماعت سره ادا کوئ .

١٢- په بيت المال کې د خيانت کولو څخه ځانونه وساتئ .

١٣- د شهيدانو د کورنيو او اولادونو ښه کفالت کوئ ، هيڅ کله يې له ياده مه باسئ .

١٤- يودبل په کارونو کې د مداخلې کولو څخه جدي پرهيز وکړئ .

# د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۴**
**نېټه: ١٤٤٣/٧/١٩ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت تميز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محاکمو ته!
السلام عليکم و رحمت الله و برکاته
وبعد: دارالانشاء رياست د محکمې د تبديلي د طريقې موضوع چې آيا کوم څوک چې تبديل د محکمې غواړي تبديل پر کوم ترتيب او طريقه ورکول په کار دي د سترې محکمې عالي شورا په مجلس مورخ ١٤٤٣/٧/١٢ هـ ق کې مطرح کړه چې عالي شورا د تصويب نمبر (١٧) مورخ ١۴۴٣/٧/١٢ هـ ق په اساس داسې هدايت وکړ.

❖ تبديل غوښتونکی کس به د تبديل لپاره د سترې محکمې محترم مقام ته د تبديل عريضه کوي.

❖ تر هغه وروسته به د سترې محکمې محترم مقام لخوا دغه عريضه دارالانشاء رياست ته احکامېږي.

❖ دارالانشاء رياست به عريضه ګوري چې دغه محکمه چې تبديل ورته غوښتل شوی دی د تبديل غوښتونکي کس خو به اصولاً خپله محکمه (په حقوقي موضوع کې د مدعی عليه د استوګنې محل په جزائي موضوع کې د پېښې محل) نه وي.

❖ که دغه محکمه د تبديل غوښتونکي کس اصولاً خپله محکمه وه بيا طبق ماده ١١ اداري اصولنامه تبديل ته ضرورت نشته دارالانشاء رياست به نوموړې موضوع تحريري مربوطه استيناف ته واستوي تر څو استيناف او مربوطه محکمې ته د اصولي اقدام هدايت وکړي.

❖ دارالانشاء رياست به وګوري چې دغه تبديل چې غوښتل شوی د ابتدائيې، د ديوان، د استيناف او که د تميز دی.

❖ که تبديل د ابتدائيې و بيا به دارالانشاء رياست ګوري چې تبديل يې په داخل د ولايت کې بلې ابتدائيې ته غوښتی دی او که د يوه ولايت څخه بل ولايت ته غوښتی دی.

❖ که تبديل د ابتدائيې يې د يوه ولايت څخه بل ولايت ته غوښتی و دارالانشاء رياست به يې د تبديل غوښتنه د اصولو د مخالفت لرلو په وجه رد کړي، طبق مکتوب مورخ ١٥- ٧ – ١۴٣٩هـ ق د اداره رياست دارالانشاء .

❖ که تبديل د ابتدائيې يې په داخل د ولايت کې غوښتی و دارالانشاء رياست به د تبديل غوښتونکي کس څخه د استعلام په توسط پوښتنه وکړي چې تاسو د تبديل لپاره کوم عذر لرى هغه وليکئ.

❖ تر دغه وروسته به دارالانشاء رياست نوموړي کس ته تعرفه د تحويل محصول ورکوي تر څو په بانک کې د تبديل غوښتنې مقرر شوی محصول تحويل کړي.
يادونه: د ياد متحدالمال دغه بند (مقرره) د عاليقدر امير المؤمنين حفظه الله د (١٤٤٣/٧/٦) نېټې د(٣٤٢ج ١) شمېرې فرمان او د سترې محکمې د (١٤٤٣/٧/٩)نېټې د (٨)شمېره متحدالمال په اساس لغوه شوی دی.

❖ تر دغه وروسته به دارالانشاء رياست د مکتوب په توسط د مربوطه استيناف څخه معلومات وغواړي چې دغه موضوع په مربوطه محکمه کې جريان لري او که نه؟

❖ که چيرې نوموړې موضوع په مربوطه محکمه کې جريان نه لري نو بيا تاسو د تبديل غوښتونکي کس په استعلام کې د تبديل لپاره ذکر شوی عذر تائيدوی او که نه؟

❖ که د مربوطه استيناف لخوا د تبديل غوښتونکي کس په استعلام کې ذکر شوی عذر تائيد نه شو دارالانشاء رياست به يې د تبديل غوښتنه رد کړي، طبق

پاتې ص ۲



# گزارش اجراآت محکمهٔ استيناف ولايت بلخ

گزارش اجراآت ديوان مدنی و حقوق عامه محکمه استيناف، ديوان نظامی استيناف، ديوان رسيدگی به جرايم امنيت عامه استيناف، ديوان تجارتی استيناف، ديوان جزاء محکمه شهری، ديوان رسيدگی به جرايم عليه امنيت عامه محکمه شهری، ديوان مدنی محکمه شهری، محکمه ابتدائيه ولسوالی دولت آباد، محکمه ابتدائيه رسيدگی به قضايای تجارتی، و آمريت ثبت اسناد و وثايق ولايت بلخ از بابت ماه دلو سال ١۴۰۰ به شرح ذيل مواصلت ورزيده است:

**در بخش حقوقی:**

در بخش حقوقی به تعداد (١٠٢) دوسيه در ماه دلو وارد محاکم آن ولايت شده در حاليکه از قبل (٥٣٥) دوسيه نيز تحت دوران قرار داشته که مجموعاً (٦٩٦) دوسيه می شود. از جمله (١٤) دوسيه فيصله شده، (١) دوسيه مکتوبی مسترد، در مورد (٣) دوسيه با صدور قرار اجراآت بعمل آمده، (٥) دوسيه به نفع مدعی، (٦) به نفع مدعی عليه و

پاتې ص ٣

بې شکه د دندو او لويو اعمالو له امله قضاء پر الله تعالی د ايمان وروسته د لويو فرائضو څخه ده، ځکه دا کار خپله د الله تعالی دی او (پر ځمکه کې د اجراء لپاره يې) پيغمبران لېږلي دي، چې هغوی هم په صحيح توګه اجراء کړ، چې د هغوی وروسته دا مسؤليت عدل کوونکو پاچاهانو ته پاتې شو، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايي: " إِنَّآ أَنزَلْنَا ٱلتَّوْرَىٰةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ ۚ يَحْكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسْلَمُوا۟ لِلَّذِينَ هَادُوا۟ وَٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلْأَحْبَارُ بِمَا ٱسْتُحْفِظُوا۟ مِن كِتَٰبِ ٱللَّهِ وَكَانُوا۟ عَلَيْهِ شُهَدَآءَ ۚ فَلَا تَخْشَوُا۟ ٱلنَّاسَ وَٱخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوا۟ بِـَٔايَٰتِى ثَمَنًا قَلِيلًا ۚ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْكَٰفِرُونَ " [سورة المَائدة : ٤٤]
ژباړه: موږ تورات نازل کړ، په هغه کښې لارښودنه او روښنايي وه. ټولو پيغمبرانو چې مسلمانان وه، له هماغه سره سمې ددغو کسانو چارې چې يهوديان شوي وه فېصله کولې. او په همدې شان زاهدانو او عالمانو هم (د فېصلو مدار هماغه ټاکلی وو)، ځکه چې هغوی ته د الله د کتاب د ساتنې مسؤليت ور په غاړه شوی وو او هغوی پرې شاهدان وه. نو (اوس د يهودو ډلې!) تاسې له خلکو څخه مه وېرېږئ؛ بلکې زما څخه ووېرېږئ او د لږ بدلې اخيستلو په مقابل کښې زما د آيتونو پلورل پرېږدئ. کوم خلک چې د الله له نازل کړي قانون سره سمې فېصلې ونه کړي، هماغوی کافران دي.
او همدارنګه الله سبحانه وتعالی فرمايي: " إِنَّآ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ ٱلنَّاسِ بِمَآ أَرَىٰكَ ٱللَّهُ ۚ وَلَا تَكُن لِّلْخَآئِنِينَ خَصِيمًا " [سورة النساء : ١٠٥]
ژباړه: ای پيغمبره! موږ دا کتاب په حقه ستا لوري ته درلېږلی دی، تر څو هغه سمه لاره چې الله تعالی در ښودلې ده، له هغې سره سمه د خلکو په منځ کښې فېصله وکړې، ته د خائنانو له خوا جګړه کوونکی مه کېږه.

**د سترې محکمې د رييس محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب له «تتمة النظام فی التاريخ القضاء فی الاسلام» کتابه**

# دستري محکمې دمتحدالمالونو پاتې برخه

مصوبه شورا عالي ستره محکمه نمبر ۱ مورخه ۷-۶ – ۱۴۴۳ هـ ق

❖ که د مربوطه استیناف لخوا د تبدیل غوښتونکي کس په استعلام کې ذکر شوی عذر تائید شو دارالانشاء ریاست به د نوموړي موضوع د تبدیلۍ پیشنهاد مربوطه تمیز عالي ریاست ته واستوي! ځکه تبدیل ورکول د تمیز عالي ریاست صلاحیت دی طبق تبصره ماده ۹۸ اداري اصولنامه.

که د تمیز عالي ریاست لخوا تبدیل ورکول شو یا تبدیل رد شو د تمیز عالي ریاست به په دواړو صورتونو کې دارالانشاء ریاست ته د تبدیل، یا د تبدیل د رد جواب تحریري استوي.

او د تبدیل د رد په صورت کې به د رد وجه هم لیکي:

دغه عذر چې استیناف عذر بللی دی د تبدیل لپاره عذر نه دی.

یا عذر دی خو مصلحت په نه تبدیل کې دی.

یا د نه تبدیل لپاره چې بله کومه وجه وي هغه به ولیکي.

په هغه صورت کې چې د تمیز عالي ریاست لخوا تبدیل ورکول شو دارالانشاء ریاست به مربوطه استیناف ته مکتوب واستوي او دا هدایت به ورته لیکي چې دغه موضوع تمیز عالي ریاست د خپل صلاحیت له مخې د فلان محکمې څخه فلان محکمې ته تبدیل کړې ده تاسو دواړه محکموته ( هغه محکمه چې موضوع ورڅخه تبدیل شوې او هغه محکمه چې موضوع ورته تبدیل شوې) زموږ د مکتوب یوه یوه کاپي واستوئ هغه محکمه چې تبدیل ورڅخه شوی په نوموړې موضوع کې دې اقدام نه کوي او هغه بله محکمه چې تبدیل ورته شوی خپل اصولي اقدام دې وکړي.

په هغه صورت کې چې د تمیز عالي ریاست لخوا تبدیل ورکول رد شي دارالانشاء ریاست به مربوطه استیناف ته مکتوب واستوي او دا هدایت به ورته لیکي چې په دغه موضوع کې تمیز عالي ریاست د خپل صلاحیت له مخې د تبدیل غوښتونکي کس تبدیل رد کړی تاسو مربوطه محکمې ته زموږ د مکتوب کاپي واستوئ تر څو محکمه په نوموړې موضوع کې خپل اصولي اقدام چې د تبدیل غوښتنې په وجه یې متوقف کړی و وکړي.

یادونه: که تبدیل د شهري محکمې د یوه دیوان څخه بل دیوان ته غوښتل شوی و بیا د تبدیل غوښتونکي کس د عذرونو د تائید لپاره د شهري محکمې د رئیس تائید کفایت کوي د استیناف د رئیس تائید نه غواړي، طبق مصوبه شورا عالي ستره محکمه نمبر ۱ مورخه ۷-۶ – ۱۴۴۳ هـ ق.

❖ که تبدیل د یوه استیناف څخه بل استیناف ته غوښتل شوی و بیا د تبدیل غوښتونکي کس د عذرونو د تائید لپاره د مربوطه تمیز عالي ریاست د رئیس صاحب تائید غواړي طبق مصوبه شورا عالي ستره محکمه نمبر ۱ مورخه ۷-۶ – ۱۴۴۳هـ ق .

❖ که تبدیل د یوه تمیز څخه بل تمیز ته غوښتل شوی و بیا د تبدیل غوښتونکي کس د عذرونو د تائید لپاره د ستري محکمې د رئیس صاحب تائید غواړي، طبق مصوبه شورا عالي ستره محکمه نمبر ۱ مورخه ۷-۶ – ۱۴۴۳ هـ ق .

دارالانشاء ریاست دې د تبدیل محکمې لپاره پورته تحریر شوی ترتیب تمیزونو، دیوانونو او ټولو محاکمو ته په متحدالمآل شکل واستوي.))

په پورته ذکر شوي تصویب کې چې د تبدیل کومه طریقه ذکر شوې د دې متحدالمآل په استولو سره ټولو تمیزونو، دېوانونو مرافعه او ابتدائیه محاکمو ته خبر ورکول کیږي تر څو خپلې شرعي او اصولي کړنې د هغې په رڼا کې برابرې کړي.

**د متحدالمآل گڼه:( ۵)**
**نیټه: ۱٤٤٣/۷/۲۱ هـ ق**

السلام علیکم و رحمت الله و برکاته

وبعـد: دارالانشاء ریاست تېرې فاسدې اداري د تعزیري جزاگانو په باره کې د ستري محکمې د عالي شورا محترم مقام ته داسې پیشنهاد کړی و:

((په هغه موضوعاتو کې چې تېرې فاسدې اداري پر چا د تعزیر فیصله کړې وي بیا هغه تعزیر اجراء شوی وي یا څه تعزیر اجراء شوی وي، څه پاته وي بندي په فتحه کې خلاص شوی وي یا خو ټول تعزیر پاتې وي د فتحې د راتگ سره خلاص شوی وي دغسې موضوعات چې زموږ محکمو ته راشي په زاړه ورکول شوي تعزیر اکتفاء وکړي یا پاته شوی تعزیر ورکړي او که په درې سره صورتو کې محکمه خپل تعزیر ورکړي.))

د دارالانشاء ریاست د فوق الذکر پیشنهاد په اړه د ستري محکمې عالي شورا لخوا د تصویب نمبر(۲) مورخ ۱٤٤٣/٦/۷ هـ ق په توسط لاندې هدایت صادر شو:

((په حق الله کې چې کومې تعزیري فیصلې د فاسدې اداري د محاکمو لخوا شوې وي دغه تعزیري فیصلې اجراء شوې وي که نه؟ په دواړو صورتونو کې دغه محکوم علیه کس په دغه فیصله شوې موضوع کې خلاص دی محکمه به یې نه راغواړي.

په حقوق العباد کې د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم مقام او د ستري محکمې د رئیس محترم شیخ صاحب د مجلس مورخ ۴/۲۷/ ۱۴۴۳هـ ق مطابق تعزیري فیصلې د نورو فیصلو په شان دي! ځکه په هغه مجلس کې د فاسدې اداري د فیصلو لفظ مطلق ذکر شوی دی نو که عارض د تعزیري فیصلې تطبیق یا د محکوم علیه د پاته حبس پوره کول غواړي دغه تعزیري فیصله یا فیصلې به د ستري محکمې دارالافتاء ریاست ته استول کیږي هغوی به تحقیق وکړي، که د شریعت خلاف وې نو بېرته به د سره جریان ورکول کیږي او که د شریعت موافق وي نو بیا به ورته تطبیق کیږي.

او که په موضوع کې تعزیري فیصله یواځې ابتدائیې کړې وي نو مرافعه دې وگوري او که مرافعې کړې وي بیا به یې د تمیز عالي ریاست وگوري د نورو فیصلو په شان معامله به ورسره وکړي.))

په پورته ذکر شوي تصویب کې د درج شوو موضوعاتو په اړه د دې متحدالمآل په استولو سره ټولو تمیزونو، دېوانونو مرافعه او ابتدائیه محاکمو ته خبر ورکول کیږي تر څو خپلې شرعي او اصولي کړنې د هغې په رڼا کې برابرې کړي.

**د متحدالمآل گڼه:( ٦ )**
**نیټه: ۱٤٤٣/۷/۲۳ هـ ق**

السلام علیکم و رحمت الله و برکاته

وبعد: د مخکنۍ اداري له مسوولینو او کارکوونکو سره د چلند په هکله د اسلامي امارت مشرتابه عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله فرمان نمبر (۹) مورخ ۱٤٤٣/۳/۱۷ هـ ق په لاندې ډول رارسېدلی دی:

((د عفوې تر فرمان وروسته د اسلامي امارت له خوا د مخکنۍ فاسدې اداري د مجرمینو د مجازات او عدم مجازات اړوند دغه ضمیمه فتوی چې د علماء کرامو له خوا صادره شوې او د کره کتنې د عالي اداري د شیوخو کرامو له خوا تایید شوې؛ زما له خوا هم تایید ده، ددې فتوی په رڼا کې خپل اجراآت تر سره کړئ.))

دا چې د اسلامي امارت مشرتابه مذکوره فرمان او له هغې سره ضم د علماء کرامو فتوی د ستري محکمې عالي مقام ته وړاندې شوه چې په اړه یې داسې هدایت صادر شو:

((د اسلامي امارت د مشرتابه عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب د مذکور فرمان په اساس تائید شوې فتوی دې د افغانستان اسلامي امارت ټولو محاکمو ته واستول شي تر څو په قضائي چارو کې ور څخه لازمه استفاده وکړل شي.))

بناءً د اسلامي امارت د مشرتابه مذکوره فرمان د ستري محکمې د عالي مقام د هدایت په اساس په(۴) ورقو کې د افغانستان اسلامي امارت ټولو تمیزونو ، دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

**د متحدالمآل شمېره:( ۷ )**
**نیټه ۲۵ /۱٤٤٣/۷ هـ ق**

**السلام علیکم و رحمت الله و برکاته**

وبعد: دا چې د ځینو محکمو د دیوانونو تشکیل مکمل نه دی د هغو په اړه د عالي شورا په مجلس مورخ ۱٤٤٣/٦/۱۰ هـ ق کې بحث وشو چې د تصویب نمبر (۷) مورخ ۱٤٤٣/٦/۱۰ هـ ق د لومړي جزء په اساس عالي شورا داسې هدایت وکړ:

((هغه محکمې چې د دیوانونو تشکیل یې مکمل نه دی هغوی خپل کارونه اوس شروع کړي تکمیل به یې وخت په وخت وکړو.))

د ستري محکمې د عالي شورا د مذکوره تصویب هدایت د دې متحدالمآل په استولو سره ټولو تمیزونو، دېوانونو مرافعه او ابتدائیه محاکمو ته خبر ورکول کیږي تر څو خپلې شرعي او اصولي کړنې د هغې په رڼا کې برابرې کړي.

**د متحدالمآل گڼه: ۸**
**نیټه: ۱٤٤٣/۷/۲۹ هـ ق**

**السلام علیکم و رحمت الله و برکاته**

وبعد: د محاکمو پر عریضو ، فیصلو او وثایقو د پیسو نه اخیستلو په هکله د اسلامي امارت مشرتابه محترم عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله فرمان نمبر (۳۴۲ج ۱) مورخ ۱٤٤٣/۷/۲٦ هـ ق په لاندې ډول رارسېدلي:

((پخوا چې پر عرائضو، فیصلو او وثایقو کومې پیسې اخیستل کیدلې او په بانکونو کې جمعه کېدلې ، په آینده کي دې دغه پیسې نه اخیستل کیږي.))

د اسلامي امارت د مشرتابه مذکور فرمان مو د ستري محکمې محترم عالي مقام ته وړاندې کړ په اړه یې داسې هدایت صادر شو:

((د اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله مذکور فرمان دې د افغانستان اسلامي امارت ټولو محکمو ته واستول شي او محکمې دې د هغه په استناد د عریضو، وثیقو او فیصلو د محصول اخیسلو څخه ډډه وکړي.))

بناءً د اسلامی امارت د مشرتابه مذکور فرمان د ستري محکمې د عالي مقام د هدایت په اساس د دې متحدالمآل سره یو ځای د افغانستان اسلامي امارت ټولو تمیزونو ، دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شوتر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

**د متحدالمآل شمېره:( ۹ )**
**نیټه ۴ /۱٤٤٣/۸ هـ ق**

**السلام علیکم و رحمت الله و برکاته**

وبعـد: د محاکمو او رسمي دوائرو لخوا چې کومه استفتاء راځي کومې مرجع ته راشي او بیا دارالافتاء ریاست ته د کومې مرجع د لارې واستول شي ؟ نوموړې موضوع د عالي شورا په مجلس مورخ ۱۴۴۳/۷/۱۲ هـ ق کې مطرح شوه چې په اړه یې د تصویب نمبر (۱۸) مورخ ۱۴۴۳/۸/۱۲ هـ ق په اساس عالي شورا داسې هدایت وکړ:

((د محاکو او رسمي دوائرو لخوا چې کومه استفتاء راځې د ستري محکمې مقام ته به راځي د ستري محکمې محترم مقام لخوا به دارالافتاء ریاست ته استول کیږي.))

د ستري محکمې د عالي شورا د مذکور تصویب هدایت د دې متحدالمآل په استولو سره ټولو تمیزونو، دېوانونو مرافعه او ابتدائیه محاکمو ته خبر ورکول کیږي تر څو خپلې شرعي او اصولي کړنې د هغې په رڼا کې برابرې کړي.

# د زابل ولایت د استیناف محکمې مسوولینو د یاد ولایت د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو له غړو سره درې ورځنۍ ناستې وکړې

د زابل ولایت د استیناف محکمې مسوولین وایي چې د دغه ولایت د استیناف محکمې رییس د ابتدائیه محاکمو له مسوولینو سره درې ورځنۍ ناستې ترسره کړې.

د استیناف محکمې د مسوولینو د معلوماتو له مخې، په دې ناستو کې د عالیقدر امیرالمؤمنین صاحب حفظه الله تعالی هغه هدایات شریک شول چې په (۱٤٤٣\۷\۹هـ ق) نېټه یې د محاکمو لپاره په یوه ځانگړې ناسته کې بیان کړي وو.

سرچینې زیاته کړې، په دې ناستو کې د یادو محاکمو له رییسانو څخه د دوی د ستونزو او اړتیاوو په اړه پوښتنه وشوه، د ناستې د گډونوالو ستونزې او وړاندیزونه واورېدل شول.

دغه راز د استیناف محکمې د مسوولینو لخوا دوی ته د ورځنیو چارو د ترسره کېدو لپاره لازم توکي (څلور پایې کمپیوټر، پرېنټر، کاغذ، سټېپلر...) ورکړل شول.

سرچینې زیاته کړې، په دې ناستو کې د یاد ولایت د استیناف محکمې د مخزن او وثایقو امر د یادو محاکمو له محررینو سره د وثایقو اړوند معلومات او تجربې شریکې کړې، او یادو محررینو ته یې په عملي ډول د ځینو مهمو وثایقو (وکالت خط، وصیت خط او ...) د لیکلو طریقه وروښودله.

په دې ناستو کې د ټولو ولسوالیو محاکمو ته د وثایقو ارزښت لرونکې رسمي مکتوبې ورکړل شوې، چې په قضائي چارو کې ورڅخه استفاده وکړي.

دغه راز په یادو درې ورځنیو ناستو کې هغه متحد المآلونه چې د ستري محکمې د بشري سرچینو ریاست له لوري را استول شوي وو د ټولو محاکمو له قضائي غړو سره شریک شول.

# بازدید هیـأت مؤظف از محبوسین، وضعیت محابس و توقیف خانه‌های ولسوالی های ولایت سمنگان

هیئاتی به منظور بررسی دوسیه های محبوسین و وضعیت محابس و توقیف خانه های مدیریت محبس و ولسوالی های ولایت سمنگان از طرف محکمه استیناف موظف که در جریان بررسی محبوسین و محجوزین وضعیت صحی، اعاشه و اباتهٔ آن‌ها مطابق لایحه از قبل تعیین شده برای هر محبوس بود، صرف هیئات موظف در مورد نکات ذیل عطف و توجه مقامات امارت اسلامی افغانستان را خواهان گردیده اند.

برای تمام محبوسین، محجوزین و مظنونین که در مدیریت محبس، نظارت خانه های مرکز وولسوالی های آن ولایت تحت توقیف قرار دارند بهتراست که جهت تعلیم وتربیه مسلکی، فراگیری علم و دانش اسلامی، فهمانیدن حقوق ووجایب محبوسین و مظنونین اشخاص مسلکی تعیین وتوظیف گردد تا تمام حقوق ووجایب آنها برای شان تفهیم گردد.

اکثراً محبوسین که فطرتاً به جرایم عادت دارند و به مواد مخدر معتاد میباشند با محبوسین که برای بار اول مرتکب جرم گردیده یکجا می باشند بهتر است که آنعده محبوسین که دارای خصلت های بد جرمی ومعتاد به مواد مخدر می باشند را ازمحبوسین که برای باراول مرتکب جرم می شوند جدا زندانی گردند، چون که محبس جای اصلاح مجرمین میباشد.

در صورتی که جدا سازی نشوند مجرمین بالعادة آنها را نیز مانند خویش به جرایم عادت داده و با رهائی شان مرتکب جرم دیگری می شوند و بالای مجرمین بالعادة و معتادین مواد مخدر باید محدودیت های نیز وضع گردد.

ازبابت نظافت و محل بود وباش محبوسین و محجوزین مدیریت محبس ونظارت خانه های مرکز و ولسوالی ها و تشناب های آنها به ترمیم اشد ضرورت دارد.

از سوی هم در اکثر نظارت خانه ها در این هوای سرد زمستان مواد سوخت بخاری جهت گرم نمودن نظارت خانه موجود نبوده و بوی تعفن در مکان های ذکر شده به مشام میرسد.

و از طرف دیگر در نظارت خانه های مرکز و ولسوالی ها برای مظنونین و متهمین قانون و لایحه که یک مظنون و یا متهم را تا چه میعاد نظارت داده شود و بعد از تکمیل تحقیق، نظارت خانه مربوطه دوسیه نسبتی مظنون و یا متهم را محول مرجع مربوطه نماید وجود نداشت و نیز در جریان بررسی هویت موظف عده از مظنونین و متهمین در نظارت خانه های مرکز و ولسوالی ها تحت نظارت قرار داشتند که از طرف پرسونل آن اداره مورد تعذیب قرار گرفته بودند و حتی مظنونین و متهمین موجود بود که ۴۰، ۲۰ و ۱۰ روز را در نظارت خانه سپری نموده بعداً به مدیریت محبس منتقل شده بودند.

برخی دیگری نیز حضور داشتند که مورد لت و کوب قرار گرفته و آثار و علایم لت و کوب آنها توسط پرسونل نظارت خانه هنوز هم در وجود شان باقیمانده بود و در سیستم کاری نظارت خانه یک نوع خود کامگی ها به نظر میرسید و نظارت خانه را شخصی ساخته و هر ارگان مطابق میل خود هر شخص را توقیف نموده بودند.

با آنکه از طرف هیئات موظف به مسئولین مربوطه در خصوص سرد بودن، رعایت نظافت و نگهداری مظنونین در نظارت خانه های مرکز و ولسوالی ها نظر به جرم مرتکبه و سپردن دوسیه های نسبتی شان بعد از تکمیل تحقیق به ارگان های مربوطه و همچنان در جریان تحقیق، استنطاق و استجواب از مظنونین و متهمین کرامت انسانی را در نظر گرفتن توصیه لازم به عمل آمد.

مسئولین درحصه موارد فوق سعی وتلاش نموده اجراآت و در صورت کدام مشکل قانونی به مقام ذیربط گزارش دهند و مسئولین نظارت خانه ها وعده سپردند که در قسمت فراهم نمودن مواد احتراقی، رعایت نظافت و سپردن مظنونین و متهمین توام با دوسیه های آنها بعد از تکمیل تحقیق به ارگان های مربوطه از هیچ نوع سعی و تلاش دریغ نمی ورزند، با آن هم بهتر است که طرزالعمل برای نظارت خانه ها جهت نظارت نمودن مظنونین و متهمین که در آن در خصوص تعیین میعاد نظارت و سپردن آنها بعد از تکمیل تحقیق همراه دوسیه های شان به مرجع مربوطه وضع و همچنان به مسئولین نظارت خانه ها ازطرف مقامات ذیصلاح کشور هدایت های لازم داده شود که درجریان نظارت و تحقیق باید مطابق آن عمل نموده درآینده دست به چنین عمل خلاف شریعت اسلامی نزنند.

در قسمت تعلیم وتربیه و آینده بهتر محبوسین در مدیریت محبس ایجاد یک باب کتابخانه و غرض معالجه آنها به اعمار یک باب کلینیک با تمام امکانات ضرورت است.

در مدیریت محبس بلاک های آنها داری مساجد بوده، بهتر است غرض ادای نماز محبوسین با جماعت و توصیه های دینی امام و استاد تعیین و توظیف گردد. همچنان غرض بررسی از وضعیت محبوسین و محابس و نظارت خانه یک هیئات متشکل از ارگان های عدلی و قضائی موظف گردد بهتر خواهد بود.

# د پکتیا ولایت د استیناف محکمې عمومي رییس د مرافعه محکمې له قضاتو او کارکوونکو سره اوونیزه ناسته ترسره کړه

د ۱٤٤۳ هـ ق کال د اتمې میاشتې په پنځمه نېټه د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې د قضاتو او کارکوونکو اونیزه غونډه د مرافعه محکمې د رئیس مفتي عبیدالله خالد په مشرۍ جوړه شوه.

غونډه د مولوي صمیم الله انس لخوا د قرانکریم په مبارکو آیاتونو پیل او د مرافعه محکمې رییس د غونډې ټولو ګډونوالو ته ښه راغلاست وویل.

مفتي خالد په خپلو خبرو کې د هرې محکمې او هر دیوان د رییس ، مفتي او محرر صلاحیتونه په ګوته کړل او ټولو ته یې وویل چې تاسو باید د خپل مسوولیت او صلاحیت سره سم خپلې ورځنۍ چارې تر سره کړئ، چې له ستونزو سره مخامخ نه شي.

هغه زیاته کړه چې تاسو باید په خپلو مینځو کې یو بل ته متقابل احترام ولرئ او یو بل ته په درووند نظر وګورئ.

همدا شان نورو ارګانونو او اداراتو ته د بېځایه مکتوبونو د لیکلو مخه باید ونیول شي د محکمې یا د دیوان د رییس له اجازې پرته کار ونه شي.

د حاضرۍ د پابندۍ په هکله یې ټینګار وکړ او په خپلو خبرو کې یې وویل چې تاسو باید له شرعي عذر او د رهبرۍ له اجازې پرته په رسمي وخت کې خپل رسمي کار پرېنږدئ ترڅو د محکمې چارې ونه ځنډېږي.

د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې د مالي حسابونو په هکله یې مفصلې خبرې وکړې او دبودجې د مصرف په اړوند یې لازمې سپارښتنې وکړې .

هغه زندانیانو په اړه تر خبرو وروسته د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې د ریاست نه یو ګډ پلاوی جوړ کړ، ترڅو هغه محبوسین چې ناروغي لري پلټنه یې وشي او د درملنې زمینه ورته برابره شي.

یاده غونډه د دعائیې په ویلو سره پای ته ورسېده.

# گزارش جلسهٔ نوبتی محکمهٔ استیناف ولایت سرپل

مسؤولان محکمهٔ استیناف ولایت سرپل می‌گویند که به تاریخ ۱٤٤۳/۷/۳۰ هجری قمری تحت ریاست محترم مولوی یارمحمد عمری رئیس مرافعه ولایت سرپل سومین جلسه‌ای نوبتی این محکمه بر گزار گردید.

در این جلسه که به تلاوت از کلام الله مجید آغاز شد، رئیس محکمهٔ استیناف گفت، همه منسوبین ادارات به ویژه قضات محترم که امور قضائی امارت اسلامی افغانستان را به پیش می‌برند باید امانتدار باشند؛ به خاطری که وظیفهٔ قضاء یکی از مهم ترین رکن امانت که همانا دین است، می باشد و برای امانتدار بودن در قدم نخست، ساختن ایمان شرط است؛ چونکه امن، امانت و ایمان همه از یک باب اند؛ پس برای همه گان واجب است که در همه ابعاد ایمان خویش را ساخته و به صورت اجمال و تفصیل در همهٔ مومن بها، عقیده کامل داشته باشند.

موصوف افزود، انسانی که امانتدار نیست، گویا این‌که ایمان کامل ندارد و لحظهٔ که از یک انسان گزینه و وصف امانت داری سلب شد به خودی خود خیانت جاگزینش می‌گردد.

رئیس محکمهٔ استیناف افزود، خیانت بسیار انواع دارد، می‌شود با قلم، با کمپیوتر، با تیلیفون و سر انجام با همه چیز که در ماحول یک قاضی قرار دارد، خیانت کرد.

به این اساس در این جلسه برای همه منسوبین این اداره، نکات ذیل به صورت تأکید توصیه می گردد که در اعمال آن هیچ کس کوتاهی نکند.

موصوف اظهار داشت، از انواع خیانت چه با قلم باشد و چه با کمپیوتر و چه بایک صورت دیگر، باید اجتناب کرد و از غدر در برابر این وظیفه سخت خودداری نمود.

رئیس محکمهٔ استیناف گفت، نظام امارت اسلامی یک نظام پاک بوده و می‌خواهد منسوبین‌اش نیز پاک باشند؛ کارهای ادارات باید به صورت مسلکی انجام داده شود.

او علاوه کرد، از دعوت های خصوصی سخت پرهیز شود، حتی در صورت ممکن معاملات عادی قضات با کتله‌های مختلف انسان‌ها، نیز باید به ذریعهٔ دیگران انجام داده شود، هر قاضی در راستای رعایت امورات امنیتی خود سخت مسؤول است.

رئیس محکمهٔ استیناف گفت که ساعات کاری که از طرف مقامات بالا توصیه می‌گردد، به صورت واجبی رعایت گردد.

# گزارش اجراآت محکمه استیناف...

(٦۲۸) دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

در بخش جزائی به تعداد (۲۳) دوسیه در ماه دلو وارد محاکم آن ولایت شده در حالیکه از قبل (۱۱۱) دوسیه نیز تحت دوران قرار داشته که مجموعاً (۱۲٦) دوسیه می شود. از جمله (۲۷) دوسیه فیصله شده، (٦) دوسیه مکتوبی مسترد، در مورد (٤) دوسیه با صدور قرار اجراآت بعمل آمده و (۹۷) دوسیه تحت کار می باشد.

**در بخش تجارتی:**

در بخش تجارتی به تعداد (۳۳) دوسیه در ماه دلو وارد محاکم آن ولایت شده در حالیکه از قبل (۱۳۳) دوسیه نیز تحت دوران قرار داشته که مجموعاً (۱٦۷) دوسیه می شود. از جمله (۷) دوسیه فیصله شده و (۱٦۰) دوسیه تحت کار می باشد.

همچنان به تعداد (۱۳۲) قطعه وثیقه مختلف النوع طی ماه دلو اجراء شده و عواید ناشی از آن مبلغ (۹۲۰۰۰) افغانی و نیز از اجراء (٤۳) قطعه صورت حال، فیصله، اقامه دعوی، ثبت عریضه، ثبت اعتراض استیناف خواهی، ثبت اعتراض فرجام خواهی، قرار های قضائی ماهوی و قرار های قضائی تجویزی مبلغ (۹۸۰۰۰) افغانی، که مجموعاً (۱۹۰۰۰۰) افغانی به خزانه دولت تحویل گردیده است.

سرپرست مسوول مدير: مولوي عبدالبصير(مشعل)
اډيتور: جواد الله (جاهد)
ډيزاين : وحيدالله (اسديار)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه
څرګندويه خپرونه په مياشت کې درې ځله چاپيږي

# برخی فعالیت های ریاست عمومی تدقیق و مطالعات در بخش استهدادآت

طبق هدایت تاریخی ١٤٤٣/٤/٢٧هـ ق مقام ذیصلاح آنعده فیصله های که در حکومت قبلی بعد از نهائی شدن تطبیق گردیده باشد دوباره تحت جریان قرار نگیرد.

- الی توزیع وثایق و فورمه های جدید از جانب ستره محکمه، محاکم میتوانند فورمه ها و وثایق حکومت قبلی که مربوط به صدور فیصله میباشد، را استعمال نمایند.

- مطابق هدایت مادۀ (٣٤) اصولنامۀ اداری محاکم، عریضۀ حقوقی بصورت مستقیم به محکمۀ ابتدائیه تقدیم شده میتواند.

- ایام حبس قبل از فیصله در حکم محکمه محاسبه می گردد.

- در قضایایکه تاجر مدعی علیه واقع شده، محکمۀ ذیصلاح آن محل تجارت مدعی علیه میباشد.

- هرگاه شخص جر الارث و حصر- وراثت مطابق اصول شرعی بدست داشته باشد، محکمه میتواند حین تقاضاء، سند رسمی به مراجع مربوط (بانک یا ادارۀ مالی) صادر نماید.

- در قید یا حبس، شب و روز جدا جدا حساب نمی گردد، یعنی اگر شخصی به یک سال حبس محکوم گردیده باشد، شخص دوازده ماه را در زندان سپری می نماید چنانچه اهل شرع سال را به ماه حساب می نمایند.

- مطابق مادۀ (١١) اصولنامۀ اداری، دعوی در محل سکونت مدعی علیه حل و فصل می گردد و اگر مدعی علیه متعدد باشد در آنصورت بالای هر مدعی علیه در محل سکونت آن دعوی اقامه می گردد، البته موضوعات میراثی از این امر فوق مستثنی میباشد.

- آنعده موضوعاتیکه مربوط دیوان نظامی باشد به رضائیت طرفین محکمۀ ابتدائیۀ ملکی بالای آن حکم صادر نموده، در صورت رضایت طرفین موضوع به محکمۀ مرافعۀ ملکی راجع شده میتواند و اگر یکی از طرفین رضایت نداشته باشد موضوع به محکمۀ مرافعۀ نظامی محول می گردد.

- در صورتیکه مدعی علیه متمرد بوده و به محکمه حاضر نگردد، قاضی میتواند طبق مکتوب نمبر (٨٢) مؤرخ١٤٣٩/٩/٢٣هـ ق مقام ذیصلاح برای وی وکیل مسخر تعیین نماید.

- هرگاه شخص خواهان تصحیح اسم، نمبر و غیره در وثیقه باشد به محکمۀ مربوطه مراجعه نموده تا محکمه اوراق شخص متذکره را مورد غور قرار دهد، هرگاه سهو ناسخ در وثیقه واضح شد، از طریق محکمۀ مربوطه طبق اسناد اصلاح می گردد.

- در مورد محصول وثایق و فیصله ها هدایت مقام محترم ذیصلاح به تمام محاکم ابلاغ گردید تا من بعد محصول وثایق و فیصله ها اخذ نگردد.

# د پکتیا د استیناف رییس د دغه ولایت د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدو له رییس سره وکتل

د پکتیا ولایت د استیناف محکمې مسوولین وايي چې د ١٤٤٣ هـ ق کال د اوومې میاشتې په ٣٠مه نېټه د دې محکمې رییس مفتي عبیدالله(خالد) د یاد ولایت د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایاتو اورېدو د رییس شرف الدین (نقره کار) سره په خپل کاري دفتر کې لیدنه وکړه.

یاده غونډه کې چې د قرانکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې رییس د غونډې ګډونوالو ته ښه راغلاست ووایه.

په دې غونډه کې د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایاتو د اورېدو رییس او ورسره مل پلاوي سربېره د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې د ریاست او د مرکز ګردیز د ښاری ابتدائیه محکمې د ریاست ټولو قضایي، اداري او خدماتي کارکوونکو ګډون درلود.

په سر کې د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې رییس د غونډې ګډونوالو ته د قرآنکریم، احادیثو او د فقهاوو د اقوالو سره سم د امر باالمعروف، او نهی عن المنکر په اړه تفصیلي خبرې وکړې.

ورپسې د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدو رییس مولوي شرف الدین (نقره کار) د اسلامي شرعیت په رڼا کې د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې د ریاست ټولو کارکوونکو ته د امربالمعروف او نهي عن المنکر په برخه کې د اسلامي امارت تګلاره بیان او د موضوع په اړه یې نېکې سپارښتنې غونډه د دعائیې په ویلو سره پای ته ورسېده.

# بازدید رئیس محکمۀ مرافعه ولایت بدخشان از محکمه ابتدائیه ولسوالی بهارک آن ولایت

به تاریخ ١٤٤٣/٧/١٨ مولوی شمس الله (عزیزی) رئیس محکمه مرافعه ولایت بدخشان از محکمه ابتدائیه ولسوالی بهارک آن ولایت بازدید بعمل آورد.

در این بازدید ابتداء جلسه مقدماتی به اشتراک مولوی عبدالتواب (جواد) ولسوال آن ولسوالی و تمام پرسونل محکمه ابتدائیه دایر گردید.

رئیس محکمه مرافعه بعد از حمد و ثناء به نام خداوند توانا؛ غرض اجراآت سالم و شفاف به وحدت و هماَهنگی ادارات عدلی وقضائی تأکید نمود و بیان کرد که تمام ادارات دولتی بخصوص ولسوال مذکور جهت تامین عدالت به محکمه همکاری داشته باشند.

متعاقباً عبدالباسط (صفدر) رئیس محکمه ابتدائیه بهارک ضمن خوش آمدید به رئیس محکمه مرافعه اظهار نمود که محکمه ابتدائیه بهارک از جمله محاکم پرکار بوده که در عین حال با ادارات دیگر دولتی در یک تعمیر و در یک دفتر اجرای وظیفه می نمایند از کمبود دفتر و نبود جای مناسب و از کمبود پرسونل شکایت داشت و گفت که پرسونل موجود برای پیشبرد امورات آن محکمه کفایت کننده نمی باشد.

رئیس محکمه مرافعه وعده سپرد که به توظیف قضات خدمتی این مشکل را مرفوع خواهد کرد. همچنان رئیس محکمه مرافعه در خصوص جای مناسب و دفتر مناسب برای پرسونل محکمه و مراجعین با ولسوال آن ولسوالی صحبت مفصل نموده گفت که مشکل محکمه ابتدائیه از این ناحیه مرفوع گردد.

سپس رئیس محکمه مرافعه از دفتر کاری و از اجراآت آن محکمه نظارت به عمل آورد در نتیجه کمی و کاستی که در بخش اندراج نمودن دوسیه های حقوقی، دوسیه های جزائی و ترتیب وثایق مختلف النوع، شهریه نمودن وثایق در دفتر مخصوص و در بخش کتاب وارده و صادره، ثبت عرایض و دفتر حاضری آنها بود رهنمائی های لازم صورت گرفت.

در اخیر حرف های فرد، فرد مراجعین توسط رئیس محکمه مرافعه گوش داده شد، کدام مشکل خاص وجود نداشت.

رئیس مرافعه برای پرسونل محکمه ابتدائیه تاکید نمود که تاحد توان سعی و تلاش می نماید تا اجراآت به موقع صورت گرفته و با مراجعین سلوک و رویه نیک صورت گیرد.

همچنان رئیس محکمه مرافعه اظهار نمود که در اوقات مختلفاز محاکم ابتدائیه مربوطه نظارت به عمل خواهد آورد تاپرسونل محاکم باید رژیم اوقات کاری را رعایت نموده بالای وظایف خویش حاضر باشند و قضایای مردم به وقت وزمان معینه آن حل وفصل گردد.

# پکتیا ولایت کې د دوو کورنیو ترمنځ روغه وشوه

د پکتیا ولایت د استیناف محکمې مسوولین وايي چې د ١٤٤٣ هـ ق کال د اوومې میاشتې په ٢٧مه نېټه د دې محکمې رییس مفتي عبیدالله (خالد) د دغه ولایت د مرکز ګردیز اړوند «ممړیو» کلي او احمد اباد ولسوالۍ د دوو کورنیو ترمینځ د قتل موضوع حل او د یادو کورنیو ترمنځ یې روغه وکړه.

د پکتیا ولایت د احمد اباد ولسوالۍ اوسېدونکې زربي‌بي بنت عجب خان اته کاله مخکې خپل خاوند (غلام علي د غلام سخي زوی) چې د مرکز ګردیز د «ممړيو» کلي اوسېدونکی دی وژلی و.

د سرچینې د معلوماتو له مخې،د زربي بي په نوم یاده مېرمن د خپل مېړه د قتل په سبب د د تېرې اداري له خوا بندي او اته کاله بند یې تېر کړی دی.

د اسلامي امارت تر واک ته رسېدو وروسته د مقتول کورنۍ د پکتیا ولایت د استیناف محکمې ریاست ته عریضه وکړه، د همدې موضوع د حل او فصل غوښتنه یې وکړه.

د پکتیا ولایت د استیناف محکمې د عمومي رییس د هڅو په نتیجه کې موضوع د مربوطه قومونو د مصلحینو لخوا حل او فصل شوه، د مقتول ورثه او کورنۍ قاتلې ته د محکمې د رییس په حضور کې شرعي ابرا وکړه او قاتلې ته یې بښنه وکړه.

د یادو قومونو مشرانو ، سپین ږیرو، د مقتول کورنۍ، د قاتلې کورنۍ د پکتیا ولایت د استیناف محکمې له رییس مننه وکړه، خوښي یې څرګنده کړه او د اسلامي امارت د نظام د پایښت دعاء یې وکړه.

# د میدان وردګ ولایت د استیناف محکمې رییس د چک ولسوالۍ له ابتدائیه محکمې لیدنه وکړه

د میدان وردګ ولایت د استیناف محکمې مسوولین وايي چې د دې محکمې رییس محترم مولوي امان الله (حامد) او د تحریراتو امر سیدالرحمن امیرزي د ١٤٤٣هـ ق کال د رجب المرجب میاشتې په ١٩نېټه د دغه ولایت د چک ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې له قضائي او اداري چارو څخه لیدنه وکړه.

د سرچینې د معلوماتو له مخې، د چک ابتدائیه محکمې مسوولینو وویل، دغه محکمه د اداري ودانۍ نه لرلو سربېره یو شمېر ستونزې لري، او د استیاف محکمې له رییس څخه یې د یادو ستونزو د حل غوښتنه وکړه.

د استیناف محکمې رییس له دوی څخه د یادو ستونزو د حل په موخه د رسمې وړاندیز غوښتنه وکړه، چې د سترې محکمې له عالي مقام سره یې په مناسب وخت کې شریکې کړي.

د استیناف محکمې رییس د دغه سفر پر مهال د یادی محکمې مسوولینو ته سپارښتنه وکړه چې له مراجعینو سره ښه چلند وکړئ، د ورځینو کارونو په ترسره کولو کې د اصولو مطابق له مراجعینو سره پوره همکاری وکړئ.

# د پروان ولایت د استیناف محکمې عمومي رییس د ابتدائیه محاکمو او دیوانونو له رییسانو سره اوونیزه ناسته ترسره کړه

د پروان ولایت د استیناف محکمې مسوولین وايي چې په ( ١٤٠٠/١٢/٢٩هـ ش) نېټه د دې محکمې رییس د یاد ولایت له اړوند ابتدائیه محاکمو او دیوانونو له رییسانو سره اوونیزه ناسته ترسره کړه.

په یاده ناسته کې چې د الهي کلام په تلاوت پیل شوه، د استیناف محکمې رییس شیخ القران والحدیث محمدقسیم محمدي راغلو قاضي صاحبانو ته د ځینو مهمو موضوعاتو په اړه هدایت او لارښوونې وکړې.

د استیناف محکمې رییس وویل، د هرې جزایي دوسیې په اړه فیصله باید له یوې میاشتې او د حقوقي دوسیې په اړه فیصله باید له دوو میاشتو ډېر وخت ونه نیسي.

د استیناف محکمې رییس د دغه ولایت د محاکمو اړوند ستونزو د حل په موخه د یوه ګروپ جوړولو هدایت وکړ.

دغه راز نوموړي وویل، ټول رییسان دې په ګډه سره جدول جوړ کړي او هره پنجشنبې دې د خپلو فعالیتونو په اړه کاري راپور جوړ او له استیناف محکمې سره یې دې شریک کړي.

د استیناف محکمې رییس وویل، د محاکمو کارکوونکي باید هڅه وکړي چې

میزان
دليکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته: ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړيکو اومطبوعاتو رياست
publication@supremecourt.gov.af
www.supremecourt.gov.af
د ټيليفون شمېرې:
۰۲۰۲۳۰۰۳۹۱
۰۲۰۲۳۰۰۲۲۹۳